**دوکتور م، ع ، روستار تره کی**


# په افغانستان کی د جګړی حقوقی بنسټ

# مقاومت یا بغاوت؟

په افغانستان باندی د نړیوال ائتلاف برید، د همهغه پیل نه د حقوقوداصولو پر بنسټ باندی د توجیه وړ نه وو. د افغانستان په معرکه کی د ملګرو ملتونو د موسسی (م،م) لاس وهنه په دی نیت چی تروریزم ضد جګړی ته حقوقی اساس ورکړی، وضع نوره هم پیچلی کړه: م ، م د نړی د زبر ځواکونو تر اغیر لاندی د بین المللی حقوق د نورمونو په خلاف ځینی پریکړی صادری کړی.

دا تمه کیده چی په افغانستان کی نړیوال نظامی ائتلاف د تروریزم سره د مبارزی په ترڅ کی په تدریج سره خپل کړه وړه د نړیوالو حقوقو د غوښتنی سره برابر یا لږ تر لږه د جګړی په بهیر کی د جګړی قوانین مراعات کړی . د غوښتنی خلاف، نړیوال ائتلاف د یو ناحق دریځ په بنأ د پرله پسی ځمکنی او هوایی بمباریو په وسیله په زرګونو بی ګناه افغانان ووژل.

د تر لاس لاندی مضمون د لیکلو لامل د بهرنیو قوتونو د افغان وژنی جګړه ایز سیاسیت په وړاندی یو سوله ایز غبرګون دی.

د افغانانو بی ځایه وژنه موږ دی ته اړ کړو چی د دغه لیکنی له لاری د افغانانو د مظلومیت او د بهرنیانو د زور او تکبر کلام خرڅ شوی افغانی سیاسی بی اراده لوبغاړو ته ورسوو.

**سریزه:**

د پیړیو راهیسی جګړه د نړیوالو منازعاتو د حل یوه وسیله شمیرل کیږی .

د لمړی نړیوالی جګړی نه وروسته د نړی په کچه وسله والو نښتو زور وموند. نړیوال حقوق د کمزور دریځ په درلودلو سره و نشو کړای چی د جګړی مخه ونیسی .

د جامعه ملل د تاسیس (۱۹۱۹ م کال) نه پس د نړیوالو منازعاتو د حل په مقصد یوه حقوقی جوړښت پیدا شو.

د نړی په کچه د حقوقو د واکمنی په استقامت د ‹‹بریان کلوګ›› پکت (۱۹۲۸ م کال د اګست میاشت)، مخ په وړاندی اوچت ګام پورته کړ: جګړه د یوه استثنأ یعنی مشروع دفاع حق په منلو سره د نړیوالو منازعاتو د حل د یوی وسیلی په توګه منع شوه. د مشروع دفاع حق اصل په تعاملی حقوقو کی مخکی موجود وو.

(دایرة المعارف په ۱۹۲۳ م ‹‹ دفاع مشروع›› حق داسی تعریفوی: ‹‹ تر تیری لاندی شوی هیواد ، څِتك او فی المجلس څواب متعرض ته ››).
په ۱۹٤٥ م کی د م ، م د تاسیس نه وروسته جګړه د نړیوالو اختلافاتو د حل د یوی وسیلی په توګه منع شو ( د منشور ۲او ٤ مه ماده) او ټولی وسله والی نښتی غیر قانونی اعلام شوی.
دغه اصل چی ټولو اختلافاتو د منشور د ۷ فصل سره سم د سوله ایزو لارو په بنسټ باندی حل شی، ومنل شو.
د منشور ۷ فصل (٥۱ ماده ) په مخکنی استثنأ(مشروع دفاع حق) باندی یو بل استثنأ (نړیوالی سولی او امنیت ته ګواښ) ور زیات کړ.
امریکا او م،م په افغانستان باندی د نظامی عملیاتو د پیل په وخت په دواړو استثناګانو باندی تکیه وکړه.
د امنیت شورا په ۲۰۰۱ م د سپتامبر په ۱۲ او ۲۸ (۱۳٦۸ او ۱۳۷۳ نمبر) پریکړو کی امریکا ته د انفرادی او ډله ایزو دفاع حق په ورکولو سره په افغانستان کی د هغه هیواد نظامی عملیاتو ته حقوقی بنه ورکړه. نوموړی عملیات په نیو یارك کی د تروریستی عمل (۲۰۰۱ م، د سپتامبر په ۱۱) په څواب ، د ‹‹ بی پُلی عدالت ›› تر نامه لاندی پیل شو.
نظامی عملیات د ‹‹ مشروع دفاع حق›› په چوکاټ کی ‹‹ظاهراً›› اصولی معلومیږی. اما په واقعیت کی بین المللی حقوقی نورم (قاعده) او نړیوالو اړیکو اصولیت په کی ندی مراعات شوی.

لمړی – د مشروع دفاع حق څخه افراطی تفسیر:

د امنیت شورأ په پریکړه  کی مشروع دفاع حق په بیړه او افراطی ډول تفسیر شویدی. دغه اقدام د نړیوالی ټولنی حقوقی بنسټ تر پوښتنی لاندی راوړی:
تعاملی حقوق د مشروع دفاع حق څخه استفاده یوازی د یو بل دولت د تیری یا تعرض Aggression په حالت کی مجاز ګنی.
غټ سوال دا دی چی آیا هغه څان وژنی تروریستی برید چی د نیو یارك په سوداګری مرکز کی ترسره شوی او د م ، م عمومی اسامبله ورباندی د تیری نوم کیښود  (۳۳٤٤ پریکړه ، ۱۹۷٤ م د دسامبر ۱٤) واقعاً تعرض ګڼلی شو ؟
مخکی اشاره وشوه چی اصلاً بین المللی حقوق د یو دولت په بل دولت باندی برید تعرض تعبیروی.
امریکا – انګلیس نظامی ائتلاف چی د طالبانو په حکومت باندی یرغل وکړ، د نیو یارك په سودا ګریز مرکز باندی تروریستی برید ، بن لادن او القاعدی ته حواله کول نه د طالبانو امارت یا افغانستان دولت ته.
په هغو اطلاعاتو کی چی مخکی د نیو یارك د پیښی  نه د امریکا د استخباراتی ادارو له لاری خپاره شوی وو په ډاګه ادعا شوی وه چی په افغانستان کی القاعده فعال مایشأ ګنل کیږی او پخپل سر عمل کوی. بنأً په امریکا باندی د طالبانو د حکومت د برید ادعا، بنسټ نلری. په نتیجه کی د م ، م له نظره څه چی دطالبانو نه د پیښی په وړاندی د مسئولیت په حساب پاتی کیږی، هغه د افغانستان په خاوره کی د القاعدی منسوبینو ته د نظامی زده کړو کامپونو د جوړولو اجازه ورکول دی. (البته د دغه فرض په منلو کی چی د طالبانو حکومت په القاعده باندی د امر و نهی د صلاحیت خاوند وو).
طالبانو مخکی د نیو یارك د پیښی نه ، د امنیت شورا د پریکړی (۱۲٦۷ نمبر ، ۱۹۹۹ م کال د اکتوبر ۱٥) له مخی باید بن لادن یو صلاحیت لرونکی مرجع ته تسلیم کړی وای ( بن لادن په ۱۹۹۸ م کال د اګست په میاشت کی په کینیا او تانزانیا کی د امریکا د سفارتونو په چاودنه کی تورن وو).
نوموړی پریکړه د منشور د ۷ فصل په احکامو باندی ولاړ وو چی د هغه له مخی د م ، م هیڅ یوه غړی اجازه نلری چی پخپله خاوره کی د تروریستی ډلو میلمه پال اوسی.
د امنیت شورا د پریکړی نه د طالبانو سر غړونه ددی لامل وګرځید چی امریکا او انګلستان په ګډه په افغانستان باندی د مشروع دفاع حق تر بیلګی لاندی یرغل وکړی.

د ۲۰۰۱ م کال د اکتوبر په ۷ د م ، م او امریکا هغه ګډ دریځ چی په یو هیواد کی د تروورستی ډلو د شته والی په حالت کی، نوموړی هیواد ته د تروورست شریك وګڼو او بل هیواد ته د هغه په وړاندی د دفاع حق وروبښو ، دفاع مشروع حق ته خطرناکه وده او پراختیا ورکولو معنی لری . دغه پراختیا د بین المللی حقوقو په تاوان تماميږی. په دی معنی چی احتمال لری یو دولت چی ځان د تروریزم تر ګواښ لاندی ‹‹تصور›› کوی، د ځمکی د ګُری یو لویه برخه د خپلی وقایوی نظامی عملیاتو موخه وګرځوی. په دی حساب مشروع دفاع حق په وقایوی ډول مطرح او د وقایوی جګړی تلپاتی اور د بلیدو په لامل بدلیږی.
وقایوی جګړه د لسګونو کلو راهیسی د اسرائیل له خوا د عربی هیوادونو په وړاندی په مخ بیول کیږی. امریکا د نیو یارك د پیښی نه وروسته هغه ته نړیواله بڼه ورکړه.
د مشروع دفاع حق هیڅ کله د وقایوی جګړی تیوری سره سمون نخوری. ځکه چی وقایوی جګړه دفاعی حق تعرضی حالت ته را ا ړوی. دواړه یعنی دفاع او تعرض یو بل سره په تضاد کی قرار لری.
بناً په افغانستان کی د امریکا لاس وهنه د مشروع دفاع حق د اصل سره زیات سمون نخوری.
نوموړی لاس وهنه ، حق د خپلی اصلی محتوأ څخه باسی او د منازعو د حلولو غیر اصولی لاری خلاصوی.
دوهم – په عمومی اسامبلی او تروریزم ضد نړیوال ائتلاف باندی اصولی اعتراض:
دهغه تعبیر په وړاندی چی د تعرض په اړه عمومی اسامبلی ، امریکا او انګلستان لری، څلور نیو کی مطرح کیږی:
۱ – که دغه واقعیت ومنو چی طالبانو بشپړ او پیاوړی حکومتی جوړښت نه درلود، باید په دغه ټکی باندی اعتراف کړو چی طالبانو دومره قوت نه درلود چی په افغانستان کی د القاعدی د راتګ مخه ونیسی: القاعده د خپلی وسلی او پیسی په زور ، افغانستان د خپلی تروورستی عملیاتو په ډګر بدل کړی وو. د طالبانو تحریك ددوی په لاس یرغمل وو. په نتیجه کی د طالبانو د حکومت کمزورتیا د هغوی مسئولیت منتفی کوی.
۲ – ددغه واقعیت په نظر کی نیولو سره چی په امریکا باندی برید د القاعدی له خوا تنظیم شوی وو، د عمومی اسامبلی پریکړه د تعرض اصلی مفهوم چی یو دولت په بل دولت باندی تیری دی، د پامه غورځولی دی.
۳ – نوموړی پریکړه د نړیوالو حقوقو په ساحه کی ‹‹ قضایی رویی›› Jurisprudence ته پاملرنه نده کړی.
قضایی رویه چی زموږ د اوسنی بحث سره تړاو لری او امریکا د هغه یو اړخ جوړوی، داسی دی:
د۱۹۷۸ تر ۱۹۷۹ م کال پوری په نیکاراګوا کی ‹‹سموزا›› د امریکا په ملاتړ حکومت کاوه. په ۱۹۷۸ انقلابی اپوزیسیون د شوروی او کیوبا په مرسته په ‹‹ساند نیست›› جبهه کی راغونډ او د سموزا حکومت لنګ کړ . وار په اصطلاح « ضد انقلاب » ته ورسید چه د امریکا د پیسی او وسلی په زور د ‹‹کانترا›› د جبهی د جوړولو نه وروسته د ساند نیست حکومت په وړاندی په بغاوت لاس پوری کړ.
ساند نیست حکومت، بین المللی عدالت دیوان (ب،ع،د) ته عارض او په امریکا باندی تور ولګاوه چی د تروورستی باندونو په واسطه په نیکاراګوا باندی تیری کوی. ب ، ع ، د د ۱۹۸٦ م کال د جون په ۲۷ نیټه په خپله پریکړه کی یاغیانو ته د امریکا لوژستیکی ، مالی او د پوځی مرستی، په نیکاراګوا باندی د تیری په نامه ونه پیژندای.
بناً د قضایی رویی په اساس د القاعدی سره د طالبانو لوژستیکی مرستی، که ارادی بنه هم ولری، باید په امریکا باندی د طالبانو د حکومت د تعرض د توجیه په مقصد ونه کارول شی.
٤ – د م ، م د ین المللی حقوقو کمیسون په ۲۰۰۱ م کال د اګست په میاشت کی یوه لایحه تنظیم کړه. په لایحه کی د دولتونو د باندنی مسئولیت په اړوند یو شمیر معیارونه وتاکل شول. د لایحی له مخی یو دولت هغه وخت په خپله خاوره کی د یوی ډلی د فعالیت مسئول ګڼل کیږی چی په هغی باندی د

‹‹څارنی›› (کنټرول) او ‹‹امر او نهی›› د صدور پیاوړتیا ولری (۸ ماده) او نهایتاً د نوموړی ډلی د هغو عملیاتو ‹‹لاربښوونه›› وکړی چی په یو بل دولت باندی په برید پای ته رسیږی.
د دولتونو د بهرنی مسئولیت دری جوړونکی عناصر یعنی ‹‹امراو نهی›› ، ‹‹کنټرول›› او ‹‹مشر توب›› د طالبانو او القاعدی په اړیکو باندی مطرح کیدای نشی:
طالبانو په القاعده باندی هیڅ یوه اخلاقی یا سیاسی اتوریته نه درلوده. بر عکس دا القاعده وه چی کله نا کله په طالبانو باندی خپل حکم چلاوه.
د طالبانو د حکومت د کمزورتیا لامل داوو چی دوی له یوی خوأ زیات وخت د خپلو مخالفینو سره په جګړه لګیا وو او له بلی خوأ د نړیوالی پیژندنی څخه د بی برخی توب له درکه د بهرنی اقتصادی مرستی څخه محروم وو. بناً د طالبانو دولتی جوړښت بشپړ شوی نه وو او دوی په حقوقی لحاظ د یو منل شوی حکومت د درلودلو څخه بی برخی وو.
یو حکومت چه اصلاً حقوقی شتوالی نلری، څنګه کولای شی چی د یوه تروریستی ډلی تر شأ ودریږی او په یو بل دولت باندی د برید مسئول وګڼل شی؟
دریم – د مشروع دفاع حق د استفادی شرایط :
د مشروع دفاع حق څخه استفادی، ځانګړی شرایط لری. د هغی جملی څخه:
۱ – د برید ضد تاوان باید د برید تاوان نه زیات نه وی. دغه اصل د م،م په منشور کی ندی څرګندی شوی، اما په تعاملی حقوقو کی یوه منلی شوی  قاعده ده.
په افغانستان کی د تروریست ضد ائتلاف انسانی تاوان (د ۶۰زره زیاته وژنه) په نیو یارك کی د تروریستی برید (۳ زره وژنه) څخه شل برابره اټکل شویده.
۲ – د م،م د منشور له مخی تر برید لاندی نیول شوی دولت باید یوازی په ‹‹لنډ مهاله احتیاطی›› اقدام لاس پوری کړی (۵۱ ماده).
نوموړی ‹‹ چټك او احتیاطی›› اقدام تر  هغه وخته پوری دوام مومی چه امنیت شورأ وروسته د برید د واقعیت د ثبوت نه د تیری لاندی دولت په ځای د تعرض سره د مقابلی ډول ټاکی یعنی په اړین اقدام لاس پوری کوی.
د نیو یارك د پیبنی په اړه د امنیت شورأ د م ، م د منشور په بنسټ باندی د تروریزم سره د مقابلی په موخه په یوه پریکړه لیك (۱۳۶۸) کی خپل چمتو والی څرګند کړ او امریکی ته په افغانستان باندی د برید اجازه ورکړه.
امریکا وروسته له دی نه چه د امنیت شورا اجازه تر لاسه کړه د جګړی د ډګر ‹‹یکه تاز›› شو او هیڅ کله م ، م ته د خپلی جنګی تحرکاتو د څارنی اجازه ور نه کړه .
امریکا د سزا نړیوال دیوان غړیتوب نلری (دیوان د جنګی جنایاتو په اړه پریکړه کوی) او د یو تړون له مخی د کابل حکومت څخه د خپلو عسکرو د مصئونیت ضمانت تر لاسه کړیدی. دا کار ددی لامل شوی چه نوموړی هیواد په جنګی عملیاتو کی په خپل سری تورن شی او د جګړی د حقوقو په وړاندی بی تفاوت اوسی.
۳ – برید ضد موخی باید د یو بل هیواد د خاوری انضمام او یا د هغه د سیاسی نظام لنګول نه وی.
د افغانستان په اړه د باندنی قاعدی وروستی برخه( سیاسی نظام لنګول) ندی مراعات شوی.
د امریکا حکومت په افغانستان باندی مخکی د برید نه د یو لړ اعلامیی د خپرولو په واسطه په ډاګه خپل نیت چی د طالبانو د حکومت نسکورول وو، څرګند کړ. د هغی جملی څخه:
- د جورج بوش د ۲۰۰۱ م کال د اکتوبر ۲۰ اعلامیه د طالبانو د واکمنی د بنسټونو د ورانولو په اړه.
- د اکتوبر ۱۳ اعلامیه د نیو یارك ورته پیبنی د مخنیوی په اړوند.
- د اکتوبر ۱۲ وینا د طالبانو د واکمنی د لنګولو په برخه کی.
- د اکتوبر ۲۱ ، د کولن پاول وینا: په افغانستان کی د نوی حکومت د جوړیدو د بند او بست په اړه.

٤ – ددی په خاطر چی دفاع مشروع حق اصولی بنه غوره کړی، باید برید ضد د ‹‹اغیزمنتوب›› نه برخمن وی. په همدغه دلیل باندی باید په ‹‹چټکی›› عملی بنه وومومی او د ‹‹اقتضایی غچ اخیستنی›› د جذباتو څخه لری وی.
د جورج بوش د ۲۰۰۱ م کال د اکتوبر په ۷ وینا کی د طالبانو د نظام څخه د غچ اخیستنی روحیه په کافی اندازه غبرګون موندلی وو.
بناً امنیت شوراً کله چی د امریکی د دریز په پلوی پریکړه کوی، د مشروع دفاع حق اصل، د غچ اخیستنی په یوه وسیله بدلوی. اما د برید ضد ‹‹چټکتیا›› شرط، د نړیوال پیچلو اوسنیو اړیکو د واقعیت په نطر کی نیولو سره ، دومره عملی نه ښکاری: د یوه نظامی ستراتیژی ټاکل او د پوځی یونټونو ځای پر ځای کول وخت ته اړتیا لری.
څلورم – د ملی واکمنی د اصل څخه تیری:
په افغانستان باندی د امریکا د برید په درشل کی، د امنیت شورا ۱۳۸٦ نمبر پریکړه (۲۰۰۱ م کال د نوامبر ۱۸ او ۱۹ )، تروریزم د نړیوالی سولی او امنیت د پاره د یو خطر په توګه اعلام او د هغه په وړاندی د قواوو استعمال مجاز وګڼه. نوموړی پریکړی څرګند کړه چی د تروریزم سره مقابله باید د افغانستان د ‹‹ملی واکمنی››،‹‹خپلواکی›› او ‹‹ځمکنی بشپړتیا›› د احترام په چوکاټ کی ، تر سره شی.
د م ، م منشور د دولتونو د خپلواکی او د هیوادونو د ملی واکمنی حق د احترام په خاطر امریکی ته د یو بل حکومت لنګولو حق ورنکړ .
امریکا دا حق تر لاسه نکړ چی په کورنی جګړه کی د یوی ډلی په ملاتړ او دبل لوری په دشمنی دریز ونیسی. (دلته د طالبانو د زپلو په موخه ، شمالی تلوالی سره مرستی ته اشاره شویده).
‹‹کوفی عنان›› د م ، م مخکنی سر منشی په دی باندی چی امریکا حق نلری چه د موجوده کړکیچ په ګټی اخیستنی سره د طالبانو حکومت چی د امریکا د اقتصادی پروژی (پایپ لاین) سره په مخالفت دریځ کی واقع شویدی، لنګ کړی ، ټینګار وکړ.
کوفی عنان د سپتامبر په ۲٤، عمومی اسامبلی ته د خپلی کلنی راپور د وړاندی کولو په ترڅ کی وویل چی امریکا ته د نیو یارك د پیښی له کبله رارسیدلی تاوان، دا حق نه ورکوی چه د تروریزم سره د مقابلی په پلمه په هر عمل لاس پوری کړی. دی د ‹‹ای،بی،سی›› په یوی تلویزونی پروګرام کی د یوه امریکایی خبریال ‹‹دیان سویر›› د یو سوال په ځواب کی وویل:‹‹... د م ، م مخکنی پریکړه طالبانو دیته اړکوی چی بن لادن م ، م ته تسلیم کړی. که طالبانو دغه غوښتنه ته هرکلی نه وایی تر تعزیراتو لاندی به راشی. اما د سیاسی نظام بدلون د افغانانو کار دی نه د بهرنیو قوتونو››.
‹‹کولن پاول›› د امریکا او انګلستان په وړاندی د نړی په کچه د مخ په زیاتیدونکو اعتراضونو په ځواب په افغانستان باندی د برید په درشل کی وویل : ‹‹امریکا د خپلو ګټو د دفاع په خاطر هر کله چه ضرورتووینی په یوازیتوب به اقدام وکړی››.
امریکا او انګلستان د م،م د ځینو غړیو د نیوکو او د نړیوالو اعتراضونو سره سره بی له دی چی بین المللی حقوق او د افغانستان ملی واکمنی حق ته احترام قایل شی د اکتوبر په ۷ م ، م ته اعلام کړل چه په باندی د نظامی عملیاتو د پیل اراده لری.
د لویدیځو متحدینو د برید په نتیجه کی د افغانستان ملی و اکمنی نقص او نړیوال حقوق د دولتی حاکمیت تر واك لاندی راغی.
امریکا د نړیوالو حقوقو په استناد، داحق درلود چی بن لادن پسی افغانستان ته لښکر ولیږی.
تورن تر توره بوره پوری تعقیب او توقیف کړی او د طالبانو د تحریك سره وجنګیږی. اما د نړیوالو قوانینو له مخی د د طالبانو حکومت د منځه وړل او د هغه په ځای د برید کوونکی په خوښه نوی حکومت ټاکل د نړیوالو حقوقو او مشروعیت د اصل نه خلاف کار دی.
د افغانستان په ملی واکمنی باندی تیری د دی لامل وګرځید چه:
- نړیوال نظامی ائتلاف افغانستان د سیمه ایزو سیالانو سره د مقابلی په ډګر بدل کړی.

- د افغانستان څخه د خپلې نوی وسلې د آزموینې د يو بی خاوند لابراتوار په توګه ګټه پورته کړی.
( توراندو دوله آلمانی الوتکی لومړی ځل د افغانستان په جګړه کی و آزمايل شوی).
- د افغانستان په د ننه کی زندانونو جوړ او افغانان په کی زندانی کړی.
- د هوايی او ځمکنی بمباريو په وسيله په زرګونو بيګناه افغانان ووژنی. يعنی په جنګی جناياتو لاس پوری کړی.
دپيښونه څرګند يږی چه په ځينو مواردو کی نړيوال حقوق خپلی طبعی سرچينی ته چه دهغه په بنست با ندی ددولتونو ترمنځ اړيکود زورداستعمال په اصل با ندی ولاړوو، شاتك ته اړشوی دی : دقواوو په واسطه د دولت حيا تی ګټی تآ مين په بين المللی اړيکو باندی دروند سيوری اچولی دی.
- د ‹‹بی پُلی عدالت›› پروګرام تر زيا تی اندازی پوری د بين المللی موسسا تو اود هغی جملی نه د م،م دحقوقی الزاما تو نه د باندی جريان موندلی دی
- م،م د ‹‹ جوړښت›› (په ځا نګړی تو ګه دامنيت شورآ په برخه کی)او‹‹ صلاحيت›› ( دامر اونهی صدور) له درکه په کمزور دريځ کی قرارلری : نوموړی کمزوری نړيوال نظا می ائتلاف ته دا جرئت ورپه برخه کړ چه افغانستان لاندی کړی اودافغانی زندانيا نو په اړه د بشرد حقوقو د موازينو اودجګړی په اړوند دجګړی دحقوقو څخه سرغړونی وکی .
- په افغانستان کی دنړيوالی نظا می ائتلاف دمشروعيت کمزوری د دی لا مل ګرځی چه دنوموړی ائتلاف، نظامی عمليات چه په کی په زرګونو افغانان وژل شو يدی ، حقوقی بنست څخه بی برخی شی. اَن تر دی چه ورته جنګی جنايت ويلی شو.
- هغه سياسی نظام چه د طالبانو د حکومت د قهری لنګيدو نه وروسته دبهرنيا نو تر څارنی او ولکی لاندی جوړی شوی په يوه پياوړی حقوقی دريځ کی قرارنلری، چه سا تنه يی د وسله وال مقاو مت سره دخبرو اترد مخکنی شرط په دول مطرح شی .
- کله چه د بهر نيو قواوو حضور تر زيا تی اندازی پوری د ا صولونه به دباندی وشميرل شی، د دوی ځينی ورانونکی اعمال (لکه بمبارد اودکوکنارو په کرهنه باندی د سم شيند لو تر لاس لاندی پروګرام) دتوجيه وړنه ګنل کيږی .
- نړيو ال نظامی ائتلاف چه په ا فغا نستا ن کی د خپل راتګ سره داصولونه سرغړونه کړيده؛ هيڅ کله دقا نون واکمنی پيغام افغانانوته نشی استولی
- دبهر نيوقواووسره د ملی حا کميت د تآمين په مقصد مقا بله چه دهغه په محورکی طالبان قرارلری په حق سره مقا ومت ګنلی شو.
- په تينګه هيله کيږی چه نو موړی مقاومت چه دبنست پالو جذباتو په کنده لو يدلی دی دمتمد نی نړی د‹‹ اعتدال او اصولو›› دکا روان سره يو ځای شی.
فرانسه . د اکتوبر۱۸ ، ۲۰۰۷ م

**اخځونه:**


Corten : opération<< liberté immuable>>, une extension abusive du concept de légitime défense, 2002.
Sicéliotes : L, autorisation par le conseil de sécurité de recourir a la force, 2002.
Condorelli : Ou va le droit international, 2001.
Zourek : La defination de l, agression et le droit international, 1957.
N'Guyen : La légitime de la légitime défense, 1934.
E.Giraud : La théorie de la légitime défense, 1934.
W.Wengler : L, interdiction de recours a la force, 1985

Briere : Le droit de juste guerre, 1938.
H.Wehberg : Le problème de la mise de la mise de la guerre hors la loi, 1928.